واحد فقيري ۲۰۱۶/۰۲/۱۱

# د کندهار د ۱۹۷۹ قیام

ژمی و، هوا ښه سړه وه. د سهار د اتو یا نهو بجو شاو خوا وه. په صنف کي یو نوع دروند او محسوس سکوت حاکم و. زموږ د څلورنیم ماه اول امتحان و. د ۱۹۷۹ د ډسمبر د میاشتي آخري ورځ وه. زه ګومان کوم چي د دوشنبي ورځ وه چي یو وار نابېره د احمد شاه بابا د لیسي د دولسم الف سائنس دروازه په خورا درزهار وټکېده. د دې تر مخه چي استاد قوي خان دروازه ور خلاصه کړي او یا و کلاس ته د راننوتلو اجازه ورکړي، زموږ د لیسي سرمعلم دروازه په تلوار خلاصه کړه او د قوي خان په غوږ کي ئې ښه مرموز شیان وویل.
د شهید قوي خان سور او سپین مخ یو دم تک سور واوښت. په باړخوګانو کي ئې د ویني لوی او واړه رګونه سره او بانجاني سول. غټي او جدي سترګي ئې د پندو عینکو تر شا لا غټي سوې. سمدستي د با انظباطه قوي خان جدي څېره د یوه مهربانه مشر بڼه غوره کړه او په استادي صلاحیت ئې کلاس ته دا شان اعلان وکړ: «لیونیانو! ټوله خپلي پارچي را کړئ او ځانونه چټک خپلو کورو ته ورسوئ. په ښار کي وضع خرابه ده، ژر سئ»
د قوي خان دا ناڅانه او غیر عادي اعلان په کلاس کي حاکمه چوپتیا د څو لمحو له پاره لا درنه کړه. شاګردان د څه وخت له پاره شاک او ګنګس غوندي سول، خو سمدستي د شخصي منافعو فطري غریزه او د سبا غم موږ دېته اړ کړو چي په یوه سلا ووایو: «معلم صاحب! موږ تر اوسه پوري یو سوال هم نه دی حل کړی. ټوله به ناکامه سو.»
قوی خان، چي له کلکینه ئې و بهر ته کتل، تر پخوا په جدي لحن را ته وویل: «لیونیانو! یو هم نه ناکامه کېږئ. ټول کامیابه یاست. ژر مو کتابونه او بستي ټولي کړئ او چسپ خپلو کورو ته ولاړ سئ. په ښار کی قیام او ګډوډي راځي. اوضاع خرابه او خطرناکه ده.»
خدای سته چي د قوي خان دې اعلان په زړه کي ښه خوشحاله غوندي کړم. ځکه د فزیک په شان د یو سخت مضمون د څلور نیم ماه امتحان و او د مدام خط کش په لاس قوي خان په شان ئې یو لایق او سخت ګیر شخص معلم و. بلخوا، هله زما د مکتب او عمر یوه داسي دوره وه چي تر سبق ویلو مي سات تیری، د یارانو خوږ باندار او ساده سوچ وهل خوښ وو. په دې کلونو کي په صنف کي لایق شاګرد نه وم، بلکي په ډېره ټیله و ټمبه او د خدای په فضل به مي ځان د کلاس په اوسط کي ساتلی و.
د خپلو شیانو د راټولو په ترڅ کي مي په زړه کي له ځانه سره په خندا وویل: «واوا واحده زویه! نقش دي وویشتل. مفت خلاص سوې. یو سخت امتحان خدای په خیر تېر کی. بس الله پاک مهربانه دی، باقي پاته به هم په خیر تېر سي! »
کله چي له کلاسه راووتلو، په دهلیزونو کي د ګردو صنفونو هلکان راوتلي ول. ټول د زینو پر لور روان ول. چا له چا سره خبري کولي، چا خندل، چا و چا ته ناري وهلي او څوک بیا غلي شان یوازي او چورتي رهي ول، خو بېړه بار زیات وو. د احمد شاه بابا د لیسي په دوهم منزل کي، له کلکینونو څخه د لمر پیکه وړانګي و دهلیزونو ته راشیوه سوي وې. د نور د وړانګو په هندسي شکلونو کي د پخوا غوندي دوړي ګرځېدې، او همدا وړانګي د روانو هلکونو پر سرونو او اوږو باندي لګېدلي، او کله نا کله به د بې احتیاطه او بې پروا متعلمینو تر پښو هم لاندي سوې.
د مکتب له ودانۍ څخه د راوتلو سره سم، هلکان د پخوا په رقم هر څوک د خپلو کورو پر لور جوپه، جوپه روان سول او موږ هم مخ د شهیدانو د چوک پر لور کله پر ډامبر او کله پر درې ګزي باندی، چي په غټو شین رنګه ډبرو باندي پوښل سوي وو، را رهي وو.
دا وخت آسمان ځای ځای صاف سوی و او د کندهار د ژمي خوږ لمر، هوا ښه ګرمه کړې وه. دلته او هلته د لمر خورو سوو وړانګو د ښار مختلفي برخي روښانه کړي وې. د سړک د دواړو غاړو د ناجوګانو پاڼي مخکني باران ښه پاکي او زرغوني کړي وې. د جلالي په قلم د کور، ډوډۍ، کالي او دغه راز نور کمونستي شعارونه پر دیوالونو باندي د باران په وجه ښه لانده سوي ول. پر سړک باندي موټران او بسونه هیڅ نه ول، خو لارویان خال خال لیدل کېدل. هر څوک په بېړه روان وو. او هر څوک چورتي او اندېښمن ښکارېدئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

په عمومي توګه، په همدي ورځ د کندهار د ښار په فضا کي یو محسوس پرتم پروت و. په آسمان کي دلته او هلته توري وریځي په هیبتناکه توګه ګرځېدې. بلاربو او تورو وریځو د یوه ستر او تباه کونکي سیاسي توپان پیغام له ځان سره پټ لاره. خو ما دا عظیم او اوږد ناورین حتی درکولای لا هم نه سوای. ځکه هله زه ځوان وم، تجربه مي کمه وه او عقل مي د دي توان نه لاره چي دا لویه تاریخي تراژدي دي درک کړای سي، مګر بیا هم د باطن په خاطر کي مي څه بد رنګه شیان تېرېدل. څه بد تصویرونه مي خامخا لیدل، خو حق دا دی چي په عمومي توګه د حالاتو په اړه ناپوه او ساده وم.
دا وخت د حفیظ الله امین له وژل کېدو څخه فقط څو ورځي تیري سوي وې. په بل عبارت، تازه خلقیان له قدرته پسي اخیستل سوي ول، او پرچمیان د روسانو په زور پر قدرت راغلي ول. په کابل کي، د شوروي عسکرو په ملاتړ خونړۍ کودتا هر څه بي اندوله او بي باوره کړي ول. هیڅکوک نه پوهېدل چي سبا به څه پېښېږي. هیچا په سبا باور نه لاره. په ولایت کي، د امین ډله په تشدد او خورا بد شکل له قدرته لیري سوه. د دغه ناڅاپه سیاسي قدرت د انتقال اثرات حتی زموږ په مکتب او صنف کي هم احساسېدل.
فقط څو ورځي مخکي، د احمد شاه بابا د لیسي له دهلیزونو او دیوالونو څخه د جبار امین عسکونه او د «عدالت، مصونیت، او قانونیت» درواغجن شعارونه لیري کړای سول. پر ځای ئې د منفور او شارلتان ببرک کارمل عسکونه او «شوروي کبیر و برادر بزرګ سوسیالیستي»، «کارګران و توده های زحمت کش جهان متحد شوید»، او دغه راز نور سطحي او ماشومانه کمونستي شعارونه ځوړند سول. په مکتب کي، خلقي جناح خپله ماته منلي وه. خلقیان خپه، برېس، او خپ خپ ګرځېدل. خو پرچمیان خوشحاله او په غوره کي ول.
البته، د سیاسي قدرت همدې آني او څه له توهینه ډک انتقال، په ما کي د سیاسي شعور یو و نیم ښځرکي یو ځل بیا رابل کړل. د واقعاتو په سرعت بدلون څه چورتي کړی وم. ځکه ما ولیدل چي په کابل کي د قدرت انتقال د کندهار په یوه لیسه کي څه عواقب لري.
خیر په هر صورت، موږ پنځه شپږ تنه همصنفیان د شهیدانو تر چوک پوري پرته له کومي حادثي څخه ورسېدو، خو کله چي عادتاً د افغانستان بانک د آبي رنګه او ډبرین تعمیر و مخ ته څه تم سوو، په آسمان کي د میګ جنګي طیارې راښکاره سوې. په دي وخت کي، یوه میګ الوتکه د شهیدانو د چوک پر سر راغوټه سوه. تر څو چي موږ صحیح کوله، بېرته لکه لوټن کوتره د آسمان په لور جګه سوه او ور پسي ئې درونډ او ډارونکي ږغ زموږ زړونه له کوګله راویستل. د همدي صحنې د لیدو سره سم، موږ د وضع په وخامت باندي څه پوه سوو، او یا ئې وپوهولوو. د لنډي خدای په امانی څخه راوروسته، هر څوک د خپلو کورو پر طرف رهي سول.
خو نن ورځ د پخوا برعکس، د شهیدانو په چوک کي د خلګو ګڼه ګونه کمه وه. اکثره دوکانونه تړل سوي ول، او نورو باقي پاتي دوکاندارانو هم خپل دوکانونه ژر ژر او په تلوار تړل. هر څه غیر عادي ښکارېدل. زه او د لاري ملګري مي د سینما پر خوا رارهي سوو. بس په څو دقیقو کي خپلو کورو ته ورسیدو.
کور ته له رسېدو سره سم مي کالي الیش کړل. ګومان کوم چي و مور ته مي په بېړه د لاري قصه هم څه نا څه وکړه. ښایي حتماً مي څه ډوډۍ هم په منډه خوړلي وي، خو ډېر ژر له کوره را ووتم او یو پلا بیا مخ د شهیدانو د چوک پر لور رهي سوم. دا وخت ښایي د سهار لس یوولس بجي به وې. باران نم نم شروع سوی و. وریځي ګڼي او توري سوي وي. د خلګو غالمغال زیات سوی وو. ټول دوکانونه تړل سوي ول. او د یو ستر ولسي پاڅون نښي نښاني هر ځای له ورایه ښکارېدې.
کله چي د سینما کوڅي ته ورسېدم، د کوڅي له سره څخه - یعني له کلا فصیل څخه - یوه ډله قهرېدلي خلګ چي توري، سیلاوې، ډانګونه، چړې، او ډبري ئې په لاسونو کي وې، مخ د عمومي سړک پر لور را روان ول. یوه ډله کوچنیان، چي په نارو او خندا ئې بدرګه کول، په منډه او هیجان پسي را رهي ول.
کله چي د مظاهرچیانو همدا ډله د ډامبر سړک و غاړی ته را ورسېدله، په ډله کي یوه سړي، چي د سپین پاچ لنګوټه ئې تړلې وه او غټه تکه سپینه سیلاوه ئې په لاس کوه، په قهرجنو سترګو ئې یو وار د شهیدانو د چوک پر خوا وکتل، بیا ئې نېغ و سینما ته وکتل، په خپله سیلاوه ئې سینما ته اشاره وکړه، په جګ او قهریدلي ږغ ئې ویل: «راځئ چي سینما وسوځو.» بس، همدا خبره کافي وه. خلګو د الله اکبر نارې کړې او د سینما په لور ئې ور وځغستل. په یوه ګړی کي خلګ و سینما ته ور پورته سول. د سینما په اول او دوهم منزل کي زیات خلګ راښکاره سول. نارې زیاتي سوې، او د سینما د مخ په میدان کي د خلګو ګڼه ګونه لا زیاته سوه.
د سینما تر تخریب او سوځولو را وروسته، د شهیدانو د چوک پر خوا ور روان سوم. په چوک کي زیات خلګ راټول سوي ول. اعتراض کونکو د شوروي او کارمل پر ضد شعاورنه ورکول. د کمونزم ایدیالوژي ئې غندله. د پرچم –


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

خلق پر ګوډاګیانو باندي ئي لعنتونه ویل. یوی ډلي خلګو سپین بیرغ پورته کړ، مګر اکثرو خلګو د الله اکبر ناري وهلي. په اعتراض کونکو کي هیڅ ناظم او یا مشر نه لیدل کېدی. بس هر چا هر څه کول.
دغه راز، د ښار د عیدګاه په سیمه کي، دری تنه روسي تخنیکي مشاورین چي د نوی کال د خریداریو په مقصد ښار ته راغلي ول، د عیدګاه د دروازي سره قهریدلو خلګو له موټر څخه راکښته کړل او ځای پر ځای ئي ووژل. سربېره پر دې، د ښار په نورو برخو او محلو کي هم ورته شان حادثي پېښي سوي وې (جیراردیت).
د دې ورځي د تلفاتو په ارتباط ما تر اوسه پوري کم ثُقه ارقام نه دي میندلي، مګر مختلف نظرونه مي اورېدلي دي. ما خپله صرف یو کس د شهیدانو د چوک شمال طرف ته د پاتاو پر غاړه ناوخته مازدیګر مړ پروت ولید. په دې لیکنه کي مي د تلفاتو په باره کي یوازي پر خپلو مشاهداتو او د ښاغلي ایدوارډ جیراردیت پر کتاب باندي استناد کړی دی، څکه هغه په دې وخت کي په کندهار کي را تېرېدی او د سترګو لیدلی حال ئي لیکلی دی.
د مظاهرچیانو په مقابل کي، د حکومت برخورد تر ډېره حده نرم ښکارېده. د قیام په لومړیو ساعتونو کي حکومتي څواکونه کاملا په خپلو ځایونو کي منتظر ناست ول، خو د کندهار په آسمان کي د جت جنګي الوتکو پروازونه زیات ول، او عموما ئي د اعتراض کوونکو د تیت و پرک او ببرولو په مقصد پوچ ټکان کول. په ځینو محلو کي، مظاهره چیانو د پولیسو پر سرماموریتونو باندي حملې کړي وې.
د پاڅون د ورځي مازیګر مهال ته حکومت په ښار کي پر اوضاع باندي څه مسلط سو. د ښار زیاتي محلي امني سوې. د ښار د هرو څو ناجوګانو څنګ ته یو مسلح مګر ډارېدلی عسکر په خر او خیرن یونیفورم کي ولاړ و. ټانکونه را وتلي ول. د ښار په سړکونو کي د پوځي موټرانو تګ راتګ ډېر وو. په چارسو، ښکاپر دروازه، نورزو شا برج، عید ګاه دروازه، ده خواجه، ښاري نو، او نورو مهمو ځایونو کي ګڼ شمېر پوځي موټران ولاړ ول. په ښار کي د اردو ګزمي ډیري سوي وې او په لوډسپیکرونو کي ئي خلګ آرام او نظم ته تشویقول. له خلګو غوښتل کېدل چي په خپلو کورونو کي پاتي سي. «ستاسو انقلابي قوتونو اشرارو ته ماتي ورکړې ده. ښار امن دی.» په عمومي توګه، د کندهار ښار د لومړي ځل له پاره یوه بشپړه نظامي څېره غوره کړه.
د دې پاڅون په ترځ کي، د کندهار تحصیل کرده ښځي، د دارالمعلمین استاداني او شاګرداني، د انجونو د لیسو متعلمیني، په روغتونو او کلینکونو کي ښځینه ډاکتراني او نرساني، او په نورو ادارو کي ښځینه ماموریني او کارګراني له یو لړ مشکلاتو سره مخ سوې. هغوی زیاتره په خپلو مکتبونو، ادارو، او یا هم د خلګو په کورونو کي تر مازیګر پوري بندي پاتي وې. ځیني کندهاري مېړمني خپلو ورونو، پلرونو، او دوستانو کورونو ته بوتلي او ځیني حکومت په خپلو موټرانو او ټانکونو کي مازیګر مهال و خپلو محلو او کورونو ته ورسولي. په پاڅون کي، پر ښځو باندي د حملې کومه خاصه حادثه نه ده درج سوې، خو اکثره د مکتب انجوني سختي ډارېدلي وې او ځیني خو د ډېر وخت له پاره بیا له کوره نه راوتلي. له همدې واقعي را وروسته، د کندهار د ښاري ښځو له پاره ورو، ورو د تحصیل، کار، او بهر راوتلو فرصتونه کمېدل، څو بالاخره د مجاهدینو او طالبانو په دوران کي ئي ټولو حقه حقوق پایمال سول.
د ماښام مهال وو چي د متجاوز سور لښکر لومړی موټر د کندهار ښار ته را ورسېد، او تر نیمي شپي پوري د اشغالګرو روسانو د موټرانو د کاروان د راتګ دروند او دوامداره ړغ ټولو ښاریانو اورېده. همدا توره او ډارونکي شپه د زیاترو کندهاریانو په یاد ده. یقینا د سره لښکر د ټانکونو غرهار د کندهار د ښاریانو نشنلیزم خوږاوه. په هغوی کي ئي د وطنپالني او مقاومت احساسات راپارول. هغوی اورېدل چي پردي اشغالګر روسي عسکر د افغان د خاوري په یوه آزاد، تاریخي، او ویاړن ښار ننوځي.

## د شوروي پر خلاف د کندهار د ۱۹۷۹ قیام عوامل:

د کندهار د ۱۹۷۹ د ښاري پاڅون اصلي سبب د شوروي اتحاد بربنډ نظامي تجاوز و. په یوه کلام کي، د کندهار دي ښاري قیام کاملا نشنلستي محرک درلود. د یوه خارجي تجاوز پر ضد ئي د کندهاریانو ګډه اراده تمثیلوله. په دې قیام کي د کندهار د ښار مختلفو خلګو، طبقو او اقشارو برخه اخیستي وه. په بل عبارت، د ۱۹۷۹ ښاري پاڅون په ښاریانو کي پراخ ملاتړ لاره. په ۱۹۷۰ کي، د کندهار ښاري نفوس څه باندي یو لک او دیرش زره وو، او هله کندهار واقعا د افغانستان دوهم ولایت و. (کاکړ)
د تره کي - امین په دوره کي، صاحبجان صحرایي او انجنیر ظریف د کندهار والیان ول. ګورنر ظریف یو مطلق سادیست، عیاش او عقده يي شخص و. د ظریف په ظالمانه دوره کي د کندهار محبسونه په بې ګناه زندانیانو ډک سول. شکنجي، اعدامونه او قتل عامونه روان ول. کندهاري منورین، مخور، قومي او مذهبي مشران او بې ګناه عادي خلګ د ظریف خادیستانو بندي، شکنجه او غرغره کړل (رشاد، مخونه، ۲۴۷-۲۴۹). په دې وخت کي، د کندهار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

خلک واقعا د کمونیستي رژیم له بې عدالتیو او استبداد څخه په تنګ راغلي ول. محلي کمونستې چارواکي په کوچنیو او محقرو فرعونانو باندي بدل سوي ول. په ښار کي، د بېري، اختناق او ترور فضا حاکمه وه. لنډه دا چي یو عمومي قیام ته شرایط ښه برابر ول.
په دي شان بحراني حالاتو کي، د شوروي د قواوو د راتګ ناځاپه بد ږغ، د کندهار د ۱۹۷۹ ښاري قیام عامل سو. د روسانو د راتګ خبر قریب لس دولس ساعته مخکي و کندهار ته د قادري بسونو او نورو سرویسونو په واسطه راورسېد (معصوم هوتک). همدې بد ږغ د کندهار ښاریان احساساتي کړل. د هغوی نشنلیزم ئې راپاروی، او په نتیجه کي د کال ۱۹۷۹ قیام را مینځته سو.

نتیجه:

د شوروي د تجاوز پر ضد د ۱۹۷۹ له قیام راوروسته معنا د ۱۹۸۰ په کلونو کي او د کمونستانو په دوران کي، د کندهار ښار او ښاري طبقي نه جبرانېدونکي ضربې او صدمي ولیدلې. د کندهار ولایت په خپل ګرده معاصر تاریخ کي د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ د لسیزو په اندازه له هر اړخیز تخریب او بربادي سره نه و مخامخ سوی. په بل عبارت، د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزي د غم، مهاجرت او د نه بیانېدونکي ظلم او وحشت زماني وې. په یوه کلام کي، د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزي ښایي د کندهار په ټول تاریخ کي د فرهنګي او اقتصادي سقوط په ارتباط تر ټولو بدي لسیزي حساب سي.
د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسیزو کي په ښار کي، د عصریت او مدنیت سره ښکاره مخالفت یو ډول سیاسي موډ وګرځېد. ملایان او جهادي قومندانان په سیاسي مشرانو باندي بدل سول. د کندهار د سیاسي قدرت پخوانی انډول او جوړښت کاملا خراب او سرچپه سو. سیاسي وفادراي عوض سوه او لنډه دا چي د یوې اوږدې او تباه کونکي انارشي په بطن کي یو نوی مافیایي سیاسي سیستم شکل ونیو. البته، نن سبا همدا نوی جنایي او مافیایي سیاسي نظام د امریکا په ملاتړ او ډالرو ولاړ او چلېږي.
خیر په هر صورت، دا باید په پای کي یاده کړم چي د کندهار د ۱۹۷۹ د قیام په ارتباط خورا کم څه لیکل سوي دي. د افغانستان نامتو او موثق مورخ محمد حسن کاکړ خپله هڅه کړې ده او څه معلومات ئې راغونډل کړي دي. ژورنالیست ایډوارډ جیرارډیت، چي په دي وخت کي و کندهار ته راغلی و، هم څه اول لاس معلومات راټول کړي دي. خو په مجموع کي د دې حادثي په باب اضافه ثُقه لیکني او تحلیل پیدا کول زما له پاره خورا ګران کار و، نو بناً د دې مقالې په لیکنه کي زیاتره پر خپلو عیني مشاهداتو، یادابښتونو، د ملګرو او دوستانو سره پر شخصي مرکو باندي تکیه سوې ده.
نوټ: په دې لیکنه کي له لاندي منابعو او آثارو څخه استفاده سوې ده:


۱ . M. Hassan Kakar. Afghanistan. Berkeley. University of California Press. 1995. (pp.113-114.)
dward R. Girardet. Afghanistan The Soviet War. New York St. Martin’s Press. (pp.19-20.)
۳ .پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یادابښتونه، دوهم ټوک. ترتیب او سمون محمد معصوم هوتک.
۴ .د محترم دوست محمد معصوم هوتک او ګران ورور فرید میوندي سره تیلفوني مکالمې.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ